## (H)برخه:د تولید ځای

## لومړی لوست: د بین المللي اقتصاد فهم او درک کول

**د زده کونکو دزده کړي موخي یا هدفونه:**زده کونکي به په دي لوست کي د لاندې موخو سره اشنا شي:
**۱** – د نړۍ په چارپیره کي د زراعت په فعلي او اونسنی وضیعت باندې بحث کول.
**۲** - ددي امر تشخیص کول چي بین المللي تجارت ولې اهمیت یا ارزښت لري، او په څه ډول سره کار کوي.
**۳** – د دې امر تشریح کول چي د تبدیلی نرخ په څه ډول سره تعین یا ټآکل کیږي.

**د لوست ورکولو لپاره وړاندیز شوی وخت:** یو ساعت

**وړاندېز شوی منابع یا زیرمي:** لاندې منابع کولی شي چي ددي لوست په تدریس کولو کي ګټوري واقع شي:

- ددي درسي پلان وړاندي کول د پاورپواینټ په پروګرام کي په ګوته شوي دي

Gibson, Jerry D., et al. Agribusiness: Management, Marketing, Human Resource Development, Communications, and Technology. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 2001. (Textbook, Chapter 14)
Lee, Jasper S., Leising, James G., and Lawver, David E. Agrimarketing Technology. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 1994. (Textbook, Chapters 13 and 14)
Finley, Eddy and Price, Robert. International Agriculture. Albany, New York: Delmar Publishers, Inc., 1994.

**د سامانونو، لوازمو، شیانو او آسانتیاوو فهرست یا لړلیک**
د لیکلو لپاره سپینه ورقه یا صفحه یا تشه ورقه
د پاورپواینټ په خاطر پراجکتور(غټ ښودونکی)
د پاورپواینټ سلایدونه یا صفحي
روښانه سلایدونه
د زده کونکو د ورقو کاپي

**اصطلاح ګاني:**لاندې اصطلاح ګاني به په دې لوست کي تر استعمال لاندې واقع شي(ذکر شوي اصطلاح ګاني د پاورپواینټ په ۲ شمیره سلاید کې هم وړاندې شوي دي):
- Agricultural education د زراعت پوهه او علم
- Appropriate technology مناسبه تکنالوژی

- First world countryد لومړی جهان یا نړۍ هیوادونه
- International trade بین المللی تجارت
- Third world country د دریم جهان یا نړۍ هیوادونه

**په زړه پوري تګلاره**:هغه معلوماتو را ټول یا جمع کړئ چې د غذايي موادو نرخ یا قیمت د نړۍ په مختلفو هیوادونو کي مقایسه یا پرتله کړي. له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چې ۱۰ ممکنه دلایل د نرخ د نوساناتو بیان کړئ. بحث په داسې ډول سره جوړ او عیار کړئ، چې د لومړۍ موخې یا هدف په لوري جریان پیداکړي .

## د محتویاتو خلاصه یالنډیز او د لوست ستراتیژي

**لومړۍ موخه یا هدف:** د نړۍ په چارپیره کي د زراعت په فعلي او اوسنی وضیعت باندې بحث کول.
**وړاندېز شوی مسله:** زراعت په نورو هیوادونو کي په څۀ ډول وي؟

**(د پاورپواینټ ۳ شمیره سلاید)**

**۱ –** له دي سره، سره چي هیوادونه یو له بل سره ډیر زیات رقیبان دي، بیا هم له لسو څخه کم هیوادونه د خپلو خلکو لپاره کافي غذا یا خوراکه تولیدوي. د نړۍ له سلو څخه زیات هیوادونه د غذا یا خوراکي له نګاه څخه په بیروني منابعو پوري اړه لري یا تړلي دي.

**( د پاورپواینټ ٤ ، ٥ او ٦ شمیري سلایدونه)**

**الف )** په هغه هیوادونو باندې چي د انکشاف په حال کي دي د دریم جهان یا نړۍ اطلاق کیږي. دریمي هیوادونه له هغه هیوادونو څخه عبارت دي چي انکشاف او رشد یي نه دی کړی او هغه هیوادونه دي چي صنعتي شوي نه دي. هغه هیواد چي خلک یي فقیر او ناتوانه دي. هغه هیوادونه چي د هغوي کلنی عواید(per capita incomes) لږ وي.
**د لومړی جهان یا نړۍ هیوادونه** له هغه هیوادونو څخه عبارت دي چي ملتونه یي صنعتي شوي دي.لومړی جهان یانړۍ د دریم جهان یا نړۍ په وړاندې داسې تشریح کیدلی او تعرف کیږي: د لومړی جهان یا نړۍ هیوادونه صنعتي (industrialized) شوي دي. ځني وختونه دوهم جهان یا نړۍ د اروپا غربي بلاک په نوم سره هم یادیږي.

**(د پاورپواینټ ۷ شمیره سلاید)**

**ب )** اکثره یا ډیری موسسو او ادارو دا کوښښ کړی دی ترڅو چي د دریم جهان یا نړۍ له هیوادونو سره مرسته وکړي او په دي توګه ددي هیوادونو زراعتي عاید یا لاسته راوړنه زیاته شي ترڅو په نتیجه کي یي د نړۍ ښیګڼه زیاته شي. د دریم جهان یا نړۍ له هیوادونو سره د همکاري یا مرستې د پراخوالی له مخې، دا هیله شتون لري ترڅو چي ددي ملتونو اقتصاد ترقي وکړي او لوړ شي.

**(د پاورپواینټ ۸ او ۹ شمیري سلایدونه)**

**ج )** په کال ۱۹۵۰ کي د نړۍ نفوس تقریباً ۲،۵ بیلیونه خلک حساب شوی وو. په داسې حال کي د می د میاشتي د ۳۱ نیټي کال ۲۰۰۹د سرشمیرنې سروی په داسې توګه تخمین کوي چي د

ځمکې په مخ نفوس تقريباً ٦،٧٦٣،٥٥٧،٠٠٠ وو او داسې هيله کيږي چي د ٢٠٤٠ کال په اخر کي به د ځمکې د مخ نفوس ٩ بيليونو خلکو ته ورسيږي. که چيري د نړۍ د هيوادونو نفوس په اوسنی ميزان سره زياتوالی وکړي، نو له شک څخه پرته زياتي غذاي يا خوراکي ته ليدل کيږي. که چيري د نفوسو زياتولی په دي اندازې سره زياتوالی وکړي نو زراعتي ساحه به هم کمه شي ځکه چي خلک د سرپناه لپاره هم اړتيا لري.

(د پاورپواينټ ١٠ او ١١ شميري سلايدونه)

**د )** هرکله چي د انکشاف په حالت کي هيوادونه د تعليم او تربي په برخه کي کار کوي د مناسبې تکنالوژۍ استعمال په نظر کي نيول مهم دي. مناسبه تکنالوژي(Appropriate technology هغه پروګرامونه او کارونه زده کړه تطبيق کوي چي د خلکو لپاره په مورد نظر برخه او تعليم کي مثمر او ګټور وي. د مثال يا بيلګي په توګه: تاسې لوي ډيزلي ټراکټور خپل هيواد نه راوړۍ په داسې حال کي چي تراکتور ضمايم، تيل يا د ترميم وسايل له ځآن سره نه لري. داسې ټراکټور چي د هغې ترميمي وسايل په يوه هيواد کي شتون ونه لري پس داسې تکنالوژي به د يوه هيواد لپاره ګټوره نه وي.

(د پاورپواينټ ١٢ ، ١٣، ١٤ او ١٥ شميري سلايدونه)

**ل )** ددي لپاره چي ټول هيوادونه استقلال او ازادي ولري او مستقيل وسي نو زيات لاري او تګلاري شتون لري چي د انکشاف په حالت کي هيوادونه له هغې څخه استفاده وکړي، لکه:تعليم او تربيت، تحقيق، زده کړه. زراعتي تعليم او تربيت له هغه منظم فعاليت نه عبارت دی چي په :اګرونومي، حيواناتو ساينس، د زراعت د اقتصاد علم، نبات پوهنه، غذا يا خوراکې علم، ساحو او نورو ډيرو زياتو ساحو کي مطالعات او لارښوونې سرته رسوي. د زراعتي عملي کړنو په وړانديز سره مورد نظر هيوادونه به قدرت لرونکي شي ترڅو د خپلو خلکو لپاره غذا يا خوراکه او نور ضروريات يا اړتياوي پوره کړي. داسي تخمين يا آټکل شوی دی چي په کال ٢٠٢٥ کي به د نړۍ نفوس ٨،٤ بيلونه نفر وي. ټول د عين توليد لپاره په يوه سترګه ګوري چي د ژوندانه لپاره ضروري يا اړين وي. دا موضوع ډير زيات اهيمت يا ارزښت لري ترڅو نفوسونه او هيوادونو ته تعليم او تربيت ورکول شي چي د خپل ځان لپاره د توليد قدرت پيدا کړي.

له **TM: 1-1** درسي يا لوستي موادو نه په استفادي سره له ده کونکو سره مرسته وکړئ ترخو د لوست د لومړۍ موخې يا هدف مفهومونه زده کړي.
**دوهمه موخه يا هدف :** ددي امر تشخيص کول چي ولي بين الملل تجارت اهيمت لري، او په څه ډول سره کار کوي.
**وړانديز شوی مسله:** له نورو هيوادونو سره تجارت کول څخه اهميت يا ارزښت لري

(د پاورپواينټ ١٦ شميره سلايد)

**١ - بين المللی تجارت ( International trade )**، د مختلفو هيوادونو په منځ کي د شيانو او خدمتونو له تبادلې څخه عبارت دی. په بنسټيزه توګه بين المللي تجارت له يو ښار نه بل ښار ته د راکړي ورکړي او يا له يوې منطقي نه بلي منطقي ته چي مشابهت ولري، يوازې ځني وختونه سخت تجارتي قوانين شتون لري چي بين المللي تجارت نسبت ښاري او منطقوي تجارت ته ګرانوي.

(د پاورپواينټ ١٧ شميره سلايد)

**الف )** هر يو هيواد د بين المللي تجارت په برخه کي ځانګړی يا مستقيل نظر او فکر لري. هرکله چي د نړۍ له نورو هيوادونو سره تجارت معاملات صورت نيسي بايد چي زياتي موضوع ګاني او کتني په نظر کي ونيول شي مثلاً: د يوه هيواد امنيت. هريو هيواد کوښښ کوي ترڅو چي د خپلو خلکو لپاره

د ساتنې او مصونيت ډاډ حاصل کړي. همدارنګه نوري مسلي يا مسايل لکه: له دواړو لورو څخه همکار کول، د پولي بيلانسونه، اقتصادي نمو يا رشد، اقتصادي انکشاف او تخنيکي پرمختګ

(**د پاورپواينټ ۱۸ شميره سلايد**)

**ب )** د بين المللي تجارت ترټولو لويه فايده او ګټه دا ده ترڅو چي انساني قوه په موثره او ګټوره توګه وساتل شي. بين المللي تجارت په هغه توګه چي تاسې خپل اکمالات ځانته کوي ددي لپاره چي تاسې کولی شی چي په څلور خواوو کي د نرخونو له مقايسي يا پرتلي نه وروسته ممکن چي ترټول ښکته نرخ يا قيمت واخلی. که چير بهرنی رقابت شتون ونه لري، ډيری شيان به قيمته وي نسبت هغه نرخ او قميت ته چي تاسې هغه د فعلاً لپاره ورکوی.

(**د پاورپواينټ ۱۹ شميره سلايد**)

**ج )** د بين المللي تجارت بله فايده يا ګټه عبارت له دی څخه ده چي ځني محصولات کوم چي مونږ نسبت د نورو اقليمي شرايطو او نورو شرايطو ته په خپله منطقه کي نه شو توليد کولی ولي د بين المللي تجارت له لاري هغې ته مونږ لاسرسی درلودلی شو لکه:روغنيات يا غوړ باب، بنزين، ميوه جات، سبيزيجات او نور توليدات. شايد چي ځني توليدات زمونږ هيواد ته ددي لپاره راوړل شي چي زمونږ هيواد د مارکيټ غوښتنه نه شي پوره کولی. د هيوادونو لپاره غوره شيان دا دي ترڅو چي د مشخصو ياځانګړو توليداتو په محصولاتو کي تخصص پيدا کړي. محصولات ښه اقتصادي توليد کړي.

(**د پاورپواينټ ۲۰ شميره سلايد**)

**الف)** د بين المللي تجارت په خاطر، تجارتي هيوادونه د خپلو مصرف کونکو لپاره له څو ناحيو څخه فايده رسوي:

- ❖ په پراخه پيمانې سره د کمو پيداکيدونکو منابعو توزيع کول.
- ❖ نسبي غوره والی او د تقوې تخصص ته ترويج او ترقي ورکول، چي دا کار په خپل ذات کي قيمت او د توليد مصارف ښکته راوړي او د مصرف کونکو لپاره توليد هم په ټيټ قيمت سره تماميږي.
- ❖ ګډ يا شريک ژوند کول په صلح آميزه ډول سره تقويه کيږي، ځکه چي هيوادونه د تجارت په اساس يو له بل سره افهام او تفهيم لري.
- ❖ اصلاح شوی تکنالوژي د هيوادونو په منځ کي تبادله کيږي او په دي ترتيب سره په چټکی سره انکشاف کوي، په داسې حال کي چي هريو هيواد د خپل ځآن لپاره وخت په موجوده تکنالوژی باندې په بل هيواد کي ضايع کوي د هغې په عوض کولی شي چي له موجوده تکنالوژی څخه په نورو هيوادونو کي د بين المللي تجارت د شتوالی په اساس استفاده وکړئ .

(**د پاورپواينټ ۲۱ شميره سلايد**)

**ب )** بين المللي تجارت د قوانيو، او معاهدو او هغه قراردادونو په اساس چي د هيوادونو په منځ کي برقرار دي، کار کوي. زياتي موانع(barriers) او مخنيوني شتون لري ترڅو خپل هيوادونه د بين المللي تجارت پواسطه له ښکار کولو څخه وساتي.

د **TM: 1-2** درسي يا لوست مواد زده کونکو ته وښاياست ترڅو چي هغوي د بين المللي تجارت ګټي د مصرف کونکو لپاره په ښه توګه سره درک کړي.

**دريمه موخه يا هدف:** د دې امر تشريح کول چي د تبديلی نرخ په څه ډول سره تعين يا ټاکل کيږي

**وړانديز شوی مسله:** د هريو هيواد پولي ارزښت ولي توپير لري يا مختلف دی؟

**(د پاورپواینټ ۲۲ شمیره سلاید)**

۱ - په نړۍ یا جهان کي مختلفي پیسي رواج لري. ددي حالت لومړی ستونزه دا ده چي هره پیسه ځانګړی یا جلا نرخ لري یعني پیسي او اسعار په مختلفو سطحو سره ارزښت لري. دوهمه ستونزه دا ده چي مختلف پولي نسبتونه شتون لري. دریمه ستونزه دا ده چي د نرخ تبادله ثابته نه ده او تل په نوساناتو یا تزلزل کي وي او دنورو عواملو پوري اړه لري.
**الف )** د پیسو اوسنی ارزښت په یوه هیواد کي د بل هیواد د فعلي ارزښت سره په مقایسه یا پرتله ټاکل کیږي چي څومره تولید به په هیوادونو کي تجارت وکړي. تقریباً له خرڅلاو سره ورته والی لري. که چیري تاسې یوه جوړه شلوار په ۱۰۰۰افغانیو واخلی، او وروسته عین افغانی په ناځاپي توګه ۲۰۰۰ افغانی ارزښت اختیار کړي، شاید چي تاسې د یوې په جوړي په عوض دوه جوړي واخلی یا یې اخستلی شی.

**(د پاورپواینټ ۲۳ شمیره سلاید)**

**ب )** د خپلو نرخونو صعود او نزول نسبت نورو هیوادونو ته پولي ارزښت په یوه هیواد کي پورته او ښکته کیږي. که چیر په یوه مملکت کي نرخ لوړ شي او په نورو هیوادونو کي لوړ یا پورته نه شي، پس د پیسو جریان د هغه هیوادونو په لوري پیل کیږي چي د لوړ نرخ لرونکي دي. د یوه هیواد د پیسو غوښتلو کموالی ددي سبب کیږي چي په نرخ کي کموالی منځته راشي او بالاخره شتمنی او سرمایه یا پانګه د کسر پوه لوري حرکت وکړي او د پیسو نهایي د ټیټ نرخ سبب کیږي

**(د پاورپواینټ ۲٤ شمیره سلاید)**

**ج)** د تورم عوارض یا نقصانات(تورم نرخ) Inflation rates د تبادلې په نرخ باندې لوی تاثیر لري. که چیري د سود نرخ د تورم په خاطرزیاتوالی وکړي، دا موضوع د بین المللي سرمایه ګذارانو یا پانګه اچونکو لپاره ښه نه ده. معمولاً دتورم لوړ نرخونه چي له نورو هیوادونو سره تړاو لري د هغې هیواد پیسي چي لوړ تورم لري نهایي کوي

**(د پاورپواینټ ۲٥ او ۲٦ شمیري سلایدونه)**

د) اقتصادي فعالیت د پیسو د اخري ارزښت له تعین او ټاکنې څخه عبارت دی. دوه هغه هیوادونه د اقتصادي رشد ورته نرخ تجربه نه کړي. د هغوي د تبادلې نرخونه لوړ یا پورته او ښکته تللی شي. معمولاً هغه هیوادونه چي اقتصادي رشد لري د پیسو د ارزښت کموالی ( currency depreciation) تجربه کوي. هغه اقتصادونه چي په تدریج یا دوامداره توګه رشد کوي د هغوي د پیسو د ارزښت ترقي(currency appreciation) کیدی شي چي قوی شي.

**له TM: 1-3 درسي یا لوستي موادو نه په استفادي سره د تبادلې د نرخونو په تعین او ټاکنه کي بحث وکړئ .**

**بیا کتنه۱خلاصه یا لنډیز:** ددي لوست د خلاصه یا لنډیز کولو په خاطر د زده کونکو له زده کړو موخو یا هدفونو څخه استفاده وکړئ زده کونکي د هري موخي یا هدف د مربوطه محتویاتو د تشریح لپاره وغواړئ. له هغه سوالونو یا پوښتنو څخه چي د پاور پواینټ په ۲۷ شمیره سلاید کي ذکر شوي دي هم کولی شی په دي برخه کي ورڅخه ګټه پورته کړئ.

**تراجرا لاندې نیول:** تر د اجرا لاندې نیولو په خاطر کولی شي چي زده کونکي لاندې فعالیت په بر کي ونیسي: له ضمیمه شوو یا پیوسته شوو صفحو څخه استفاده وکړئ.

WS: 1-1 د رواج لرونکو پیسو د نرخونو په برخه کي کوښښ او پلټنه کول

**ارزيابی:** ارزیابی باید د زده کونکو لپاره د لوست په موخو باندې په اشناکیدو سره متمرکزه وي. په دي برخه کي مختلفي تګلاري شتون لري ترڅو چي زده کونکي پري ارزيابي کړل شي، مثلاً د زده کونکو اجرات په سرته رسیدونکو فعالیتونو کي او یا په دي برخه کي کیدلی شي چي له نمونه ازموینې څخه ګټه واخستل شي ترڅو چي زده کونکي د لوست له موخویا هدفونو سره اشنا شي. په لیکلې بڼه ازموینه له دي سند سره یوځای وړاندي کیږي.

**د نمونه ئي ازموینې لپاره ځوابونه**

**مطابقت ورکول**

1. C
2. A
3. B
4. D

**تش یا خالي ځایونه ډک کړئ**

1. دریم جهان یا نړۍ
2. 8.4
3. 12
4. 100

**لنډ ځواب**

1. په پراخه پیمانې سره د کمو پیداکیدونکو منابعو توزیع کول.
2. نسبي غوره والی او د تقوې تخصص ته ترویج او ترقي ورکول، چي دا کار په خپل ذات کي قیمت او د تولید مصارف ښکته راوړي او د مصرف کونکو لپاره تولید هم په ټیټ قیمت سره تماميږي.
3. ګډ یا شریک ژوند کول په صلح آمیزه ډول سره تقویه کیږي، ځکه چي هیوادونه د تجارت په اساس یو له بل سره افهام او تفهیم لري.
4. اصلاح شوی تکنالوژي د هیوادونو په منځ کي تبادله کیږي او په دي ترتیب سره په چټکۍ سره انکشاف کوي، په داسې حال کي چي هریو هیواد د خپل ځان لپاره وخت په موجوده تکنالوژۍ باندې په بل هیواد کي ضایع کوي د هغې په عوض کولی شي چي له موجوده تکنالوژۍ څخه په نورو هیوادونو کي د بین المللي تجارت د شتوالی په اساس استفاده وکړئ

**نمونه ئي ازموينه**

**د بين المللي اقتصاد درک او پيژندګلو**

**نوم :** ________________

**مطابقت ورکول**

**لارښوونه:** د صحيح ځواب په مطابق اصطلاح ارايه کړئ. د اصطلاح تورى نظر په تعريف سره وليکئ

a. Agricultural education ( زراعتي تعليم او تربيت)
c. First world country (لومړى جهان يا نړۍ)
b. International trade (بين المللى تجارت)
d. Appropriate technology (مناسبه تکنالوژي)

______ ١ هغه هيواد چي صنعتي شوى وى.
______ ٢ د رزاعت په برخه کي د مطالعاتو او تدريساتو منظم فعاليت.
______ ٣ د دوه هيوادونو په منځ کي د شيانو او خدمتونو تبادله کول.
______ ۴ د پروګرامونو له تطبيق او زده کړي نه عبارت دي چي د خلکو لپاره مناسب مورد نظر تدريس وي او ګټور وي.

**تش يا خالي ځآيونه ډک کړئ: لاندې جملي په مناسبو کلمو يا کلمې سره ډک کړئ!**

١ - ________ ________ ________ له هغه هيوادونو څخه عبارت دي چي انکشاف او رشد يي نه وي کړى.
٢ - په کال ٢٠٢۵ کي داسې آټکل شوى دى چي ____________ بيلونه خلک به د ځمکې په مخ ژوند ولري.
٣ – له ____________ څخه کم ملتونه د خپلو خلکو لپاره کافي غذا يا خوراکه توليد کوي.
۴ – په نړۍ يا جهان کي په اندازه د ________________ هيوادونه شتون لري چي په بيرونۍ غذايي منابعو پوري تړلي دي يا اړه لري.

**لنډ ځواب: لاندې سوالونو يا پوښتنو ته ځواب وړاندى کړئ!**

د بين لمللي تجارت څلور طريقي يا تګلاري چي د مصرف کونکو يا مستهلکينو لپاره ګټه رسوي کومي دي؟

1.

2.

3.

4.

## نړیوالی زراعتي اصطلاحات

د دریم جهان یا نړۍ هیوادونه (**third world country**) له هغه هیوادونو څخه عبارت دي چي انکشاف او رشد یا نمو یي نه وي کړي او هغه هیوادونه دي چي صنعتي شوي نه وي. هغه هیواد چي خلک یي فقیر او ناتوانه وي. هغه هیوادونه چي کلني سراسر عواید(per capita incomes) یي کم وي.

**د لومړی جهان یا نړۍ هیوادونه**(**first world country**) له هغه هیوادونو څخه عبارت دي چي ملتونه یي صنعتي شوي دي.

**مناسبه تکنالوژی (Appropriate technology** ) پروګرامونه او د زده کړي کار تطبیق کوي کوم چي د مورد نظر خلکو او هغه خلکو لپاه چي تعلیم ولري مثمر او ګټور واقع شي.

زراعتي تعلیم او تربیت ( **Agricultural education**) له یو منظم فعالیت نه عبارت دی چي په :ګرونومي، حیواناتو ساینس، د زراعت د اقتصاد علم، نبات پوهنه، غذا یا خوراکي علم، او ډیرو نورو زیاتو ساحو کي مطالعات او لاربښووني سرته رسوي.

**BENEFITS CONSUMERS DERIVE FROM INTERNATIONAL TRADE**

هغه ګټې يا فايدي چي مصرف کونکو يا مستهلکينو ته د بين المللي تجارت له لاري متوجه دي.

1. په پراخه پيمانې سره د کمو پيداکيدونکو منابعو توزيع کول.
2. نسبي غوره والی او د تقوې تخصص ته ترويج او ترقي ورکول، چي دا کار په خپل ذات کي قيمت او د توليد مصارف ښکته راوړي او د مصرف کونکو لپاره توليد هم په ټيټ قيمت سره تماميږي.
3. ګډ يا شريک ژوند کول په صلح آميزه ډول سره تقويه کيږي، ځکه چي هيوادونه د تجارت په اساس يو له بل سره افهام او تفهيم لري.
4. اصلاح شوی تکنالوژي د هيوادونو په منځ کي تبادله کيږي او په دي ترتيب سره په چټکۍ سره انکشاف کوي، په داسې حال کي چي هريو هيواد د خپل ځان لپاره وخت په موجوده تکنالوژۍ باندې په بل هيواد کي ضايع کوي د هغې په عوض کولی شي چي له موجوده تکنالوژۍ څخه په نورو هيوادونو کي د بين المللي تجارت د شتوالی په اساس استفاده وکړئ

## HOW EXCHANGE RATES ARE DETERMINED

## د پیسو یا اسعارو د نرخونو تبادله په څه ډول سره مروجه ټاکل کیږي.

د خپلو نرخونو صعود او نزول نسبت نورو هیوادونو ته پولي ارزښت په یوه هیواد کي پورته او ښکته کیږي. که چیر په یوه مملکت کي نرخ لوړ شي او په نورو هیوادونو کي لوړ یا پورته نه شي، پس د پیسو جریان د هغه هیوادونو په لوري پیل کیږي چي د لوړ نرخ لرونکي دي. د یوه هیواد د پیسو غوښتلو کموالی ددي سبب کیږي چي په نرخ کي کموالی منځته راشي او بالاخره شتمنی او سرمایه یا پانګه د کسر پوه لوري حرکت وکړي او د پیسو نهایي د ټیټ نرخ سبب کیږي

د تورم عوارض یا نقصانات(تورم نرخ) Inflation rates د تبادلې په نرخ باندې لوی تاثیر لري. که چیري د سود نرخ د تورم په خاطرزیاتوالی وکړي، دا موضوع د بین المللي سرمایه ګذارانو یا پانګه اچونکو لپاره ښه نه ده. معمولاً دتورم لوړ نرخونه چي له نورو هیوادونو سره تړاو لري د هغې هیواد پیسي چي لوړ تورم لري نهایي کوي

اقتصادي فعالیت د پیسو د اخري ارزښت له تعین او ټاکنې څخه عبارت دی. دوه هغه هیوادونه د اقتصادي رشد ورته نرخ تجریه نه کړي. د هغوي د تبادلې نرخونه لوړ یا پورته او ښکته تللی شي. معمولاً هغه هیوادونه چي اقتصادي رشد لري د پیسو د ارزښت کموالی (currency depreciation) تجربه کوي. هغه اقتصادونه چي په تدریج یا دوامداره توګه رشد کوي د هغوي د پیسو د ارزښت ترقي( currency appreciation) کیدی شي چي قوی شي.

WS: 1-1

## د رایجو پیسو د نرخونو تحقیق

**لارښوونه:**

د لسو هیوادونو لپاره  د پسیو نوعه او د هغې نرخ په هکله پلټنه وکړئ. په خپل تحقیق کي له لاندې ویب پاڼې څخه استفاده وکړئ:
http://www.oanda.com/convert/classic

لس هیوادونه انتخاب یا وټاکئ او د همدي لسو هیوادونو د نرخونو تبادله لست کړئ:

1.

2.

3.

4.

5.

6.

7.

8.

9.

10.